# په مکرر ډول کړل شوې پوښتنې

## خدمتونه چې

## د نوم لیکنې کارتونو کې د تعدیل په مرکزونو کې شتون لري

***د نویو زیږیدلیو ماشومانو نوم لیکنه او د زیږیدنې سند ورکول کېدنه***

### د زېږون لیکنې موخه څه ده؟

- د زېږون نوم لیکنه د مسئولې دولتي ماموریت لخوا رسمي ثبتونه ده چې له پسه یې مور و پلار ته د ماشوم د زیږیدنې سند ورکړل کېږي.
- دې لپاره چې ماشوم په ټول ژوند کې حقوق او تحفظ ترلاسه کړي ، زېږون لیکنه یې بنسټیزه ده. دا یقیني کوي چې قانون له مخې ماشوم پېژندل شوی دی.

### د زېږون لیکنې څه ګټې دي؟

- د ماشوم زېږون لیکنه د هغه د رسمي پېژندنې ، عمر ، جنس او تابعیت رسمي ثبوت وي او تعلیم ، د روزګار فرصتونو ، قانوني واده ، د پېژند پاڼو صادرولو او پاسپورټ ، اور نورو ډېرو اولسي خدمتونو لکه روغتیایي مرستې ته لاس رسي لپاره اړین وي.
- د زېږون نوم لیکنې او د زېږون سند د نه شتون په حال کې ښایي ماشوم د خپلې پېژندنې ، عمر ، او تابعیت ثابتولو کې ستونزې ولري او ښایي له حقوقو او فرصتونو بې برخې پاتې شي.

### د زېږون سند څه شی دی؟

- دا د پاکستان دولت لخوا صادر شوی یو رسمي سند دی چې د ماشوم قانوني پېژندنه ثبتوي او د هغه/هغې حقوق خوندي کوي.
- دا د یو کس په ژوند کې په ډېرو موقعو لکه په مکتب کې داخلې ، کار روزګار ، واده ، د پېژند پاڼو صادرونې او د تابعیت ثبوت لپاره اړین وي.

### افغان مهاجر کارت لرونکي خلک څنګه کولای شي خپل نوي زیږیدلي ماشومان راجستر کړي؟

- هغه مور یا پلار چې میعاد لرونکی کارت لري (اوسنی میعاد: ۳۱ دسمبر ۲۰۱۵ پورې) کولای شي چې په تېرو پنځو کالو (۲۰۱۰ راهیسې) خپل زیږیدلي ماشومان راجستر کړي.
- که مور و پلار دواړه مهاجر کارتونه لري نو باید یو یې مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکز (د دې پاڼې په پای کې د مرکزونو ادرسونه موجود دي) ته ماشوم سره راشي. که په والدینو کې یواځې یو مهاجر کارت لري ، نو باید ماشوم راجستر کولو لپاره هم هغه مور یا پلار راشي.
- د ماشوم د نوم لیکنې لپاره اړین سندونه د ماشوم د زیږیدنې سند (تشریح لپاره لاندې ځواب وګورئ) او د مور یا د پلار اصلي مهاجر کارت (فوټو کاپي نه قبلېږي) پکار وي.
- د ماشوم د اجسترېشن نه پس به مور یا پلار ته په هم هغه ورځ د ماشوم د زېږون سند ورکړل شي.
- د ماشوم راجسترېشن کولو نه پس به اړینه وي چې ماشوم سره د راغلي مور یا پلار مهاجر کارت تعدیل شي او نوی ورکړل شي چې د دې کارت په شا به د ماشوم معلومات لیکل شوي وي.
- مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکزونو د قامي ډېټابېس او راجسترېشن ماموریت (نادرا) لخوا چلول کېږي.

### 'د زېږون د ثبوت سند' څه شی دی؟

- دا یو سند دی چې د ماشوم د زیږیدنې تصدیق کوي. دا د زېږون ځای (روغتیایي مرکز) یا زېږون په وخت موجودې خدمتګارې (قابله/ښځه روغتیایي کارکوونکې چې دولت لخوا روزل شوې ده) نه ترلاسه کېږي چې پرې خپل لاسلیک او د زېږون معلومات (نېټه ، زېږون ځای ، د بچي جنس ، د مور و پلار نومونه) لیکي.
- مهاجرت کارت لرونکي کولای شي چې د کدوالو په کلي کې موجودو لومړني روغتیایي مرکزونو نه د زېږون د خبرتیا پاڼه یا واکسین کارت (لومړني روغتیایي مرکزونو نه د نړیوال روغتیایي تنظیم اي پي آی واکسین کارت ترلاسه کېږي) یا روغتیایي نسخې واخلي. مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکزونو کې دا ټول سند منل کېږي.

### ایا هغه ماشومان چې په تېر وخت کې د خپلو والدینو په کارتونو کې ثبت شوي وو خو لا تر اوسه یې د زېږون سندونه نه دي ترلاسه کړي کولای شي چې اوس هم د زېږون سندونه ترلاسه کړي؟

- هو ، هغه ټول افغان ماشومان چې عمرونه یې له ۱۸ کالو ټیټ دي ، په پاکستان کې پیدا شوي وو او په تېر وخت کې نادرا سره راجستر شوي وو ، خو لا تر اوسه ورله د زېږون سندونه نه دي ورکړل شوي ، باید مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکزونو نه خپل زېږون سندونه ترلاسه کړي.
- اړینه نه ده چې دغه زېږون سندونه اخستلو لپاره دې دوی په خپله موجود وي بلکې د کورنۍ مشر/مشره یا د کورنۍ نماینده کولای شي بغېر له څه نور کامونو اخستلو دغه کارتونه ترلاسه کړي.

***مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکزونو نور فعالیتونه***

### مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکزونو کې نور څه خدمتونه ترلاسه کېږي؟

- په اوسنیو مهاجر کارتونو کې سمونې (د بېلګې په توګه ، د غوښتنلیک ورکوونکي په خپل/د پلار/د مور/د ښځې/د متعلقینو نومونو ، عمرونو ، جنسونو ، مدني حالتونو ، انځورونو یا ادرسونو) کې.

- په اوسنيو مهاجر کارتونو کې ورزياتونه: د ادرس ، ټيليفون شمېرې ، انځور يا د نوی زېږېدلي ماشوم.
- ورک ، غلا ، تت يا زيانمن شوي مهاجر کارتونو بدلونه
- هغو راجستر شويو ماشومانو چې عمرونه يې پنځو کالونو ته رسېدلي دي ته د مهاجر کارتونو صادرونه

## له کوم عمر راجستر شوي ماشومان حق لري چې خپل ځانګړي مهاجر کارتونه ولري ؟

- ماشومان چې عمرونه يې پنځو کالو ته رسېدلي دي ، خپل والدينو سره له مخې راجستر شوي دي او چې والدينو کې يو يې ميعاد لرونکې کارت لري حق لري چې مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکزونو نه خپل ځانګړي مهاجر کارتونه ترلاسه کړي.
- مهاجر کارت اخستلو په موخه اړينه ده چې مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکز ته ماشوم سره هغه مور يا پلار هم راشي چې د چا د کارت په شا د ماشوم معلومات درج دي تر څو د ماشوم انځور او بايو مېټرک معلومات واخستل شي.
- د هغه مور يا پلار کارت به هم تعديل او نوی صادرېږي چې د چا د کارت په شا د ماشوم معلومات ليکلي دي.

## که يو ميعاد لرونکی مهاجر کارت ناسم معلومات لري يا ورک /غلا شي نو څه کول پکار دي ؟

- د مهاجر کارت د تعديل يا بل کارت اخستلو لپاره (که ورک يا غلا شوی وي) مهاجر کارتونو کې د بدلون هر يوه مرکز ته غوښتنليک استول کېدې شي.
- د مهاجر کارت د ورکېدا/غلا په حال کې نوی مهاجر کارت اخستلو لپاره بايد په مهاجر کاتونو کې د بدلون مرکز ته د پوليس لومړنی خبرتيايي راپور (ايف آی آر) يا د کډوالو او د ستنېدونکو وزارت لخوا صادره شوې تصديقنامه وړاندې کړای شي. هغه کس چې کارت يې ورک شوی دی اړ دی چې په خپله حاضر شي.
- د پوليس لومړنی خبرتيايي راپور (ايف آی آر) بايد د غوښتنليک ورکوونکي نوم ، پلار نوم ، په پاکستان کې د استوګنې اولسوالۍ او ولايت نومونه او په افغانستان کې د هغه د اصل اولسوالۍ او ولايت نومونه ، د مهاجر کارت شمېره ، د پوليس سټېشن ټيليفون شمېره او ادرس او د ليک صادروونکي کس نوم ولري.

## نوی/تعديل شوی کارت ترلاسه کېدو کې به څومره وخت ولګي ؟

- د غوښتنليک نه دوه اوونۍ پس ښايي نوی ، تعديل شوی يا بدل شوی کارت مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکز کې ترلاسه شي.
- د خپل کارت د ترلاسي په اړه معلوماتو لپاره غوښتليک ورکوونکي کولې شي چې د خپلو مهاجر کارتونو شمېرې په ايس ايم ايس موبايل پيغام شمېره ۷۰۰۰ ته واستوي.

## ايا اوس هم شونې ده چې هغه افغان مهاجر کارت لرونکي، چې مهاجر کارتونه يې ۲۰۱۰ کې صادر شوي وو او ۳۱ دسمبر ۲۰۱۲ پورې ميعاد يې درلوده، وړاندې ذکر شويو خدمتونو نه ګټه واخلي ؟

- نه ، افغانان چې کارتونه يې په ۳۱ دسمبر ۲۰۱۲ يا دې نه مخکې له ميعاده تېر شوي دي د پاکستان دولت او يو ابن ايچ سي آر سره هېڅ اړه لرونکي نه ګڼل کېږي. نو څکه دوی يو ابن ايچ سي آر او ملګرو تنظيمونو لخوا د هېڅ مرستې ، په خپله خوښه د ستنېدنې لپاره د مرستې په ګډون ، ترلاسه کولو حق نه لري.

## ايا ناثبت شوي افغانان کولې شي چې مهاجر کارت لپاره غوښتنليک ورکړي ؟

- هغه افغانان چې هېڅ کله يې مهاجر کارتونه نه دي اخستي ، بشمول د مهاجر کارت لرونکو د کورنيو غړو چې نادرا سره کله هم نه دي راجستر شوي ، حق نه لري چې مهاجر کارتونه ورکړل شي. خو دوی کولای شي چې پاکستان کې دننه ناثبت افغانانو د ارجسترېشن راروان بهير کې نادرا ته حاضر شي. د دې فعاليت په اړه معلومات به د پاکستان دولت لخوا ورکړل کېږي ځکه چې يو ابن ايچ سي آر په دې بهير کې څه ونډه نه لري.
- دوی يو ابن ايچ سي آر ته د پناه غوښتنې غوښتنليک هم ورکولې شي خو په دې شرط چې دوی په يوې جامعې انټرويو (مرکې) کې يو ابن ايچ سي آر ته ثابتولې شي چې دوی د خپل ژوند يا ازادۍ ته د خطر لامله افغانستان ته نشي ستنېدلې. د کډوالۍ د حېثيت فېصله کولو بهير ته او د کډوالۍ حېثيت ورکولو لپاره باندې پلې کېدونکو اصولو ته د لاس رسي په اړه معلومات يو ابن ايچ سي آر او مرستندويه تنظيمونو نه ترلاسه کېدې شي.

## مهاجر کارت يو کس ته څه قانوني وړتياوې ورکوي ؟

- مهاجر کارت د پېژندنې يو سند دی او دا کارت لرونکي ته وړتيا ورکوي چې د کال ۲۰۱۵ پای پورې په پاکستان کې په قانوني توګه پاتې شي. دا کارت په ټول پاکستان کې د اعتبار وړ دی.
- مهمه ده چې راجستر شوي افغانان خپل مهاجر کارتونه هر وخت ځان سره ګرځوي او د قانون پلي کوونکو ادارو په غوښتنه يې هغوی ته وړاندې کړي.
- مهاجر کارت لرونکي په پاکستان کې د استوګنې حق لري او د بهرنيو اتباعو لپاره د ۱۹۴۶ قانون او نورو مخنيوی کوونکو قوانينو لاندې نشي نيول کېدې. خو کا مهاجر کارت لرونکي په جنايي فعاليتونو يا د پاکستان د قانون په ماتولو کې ککړ ومونډل شول نو مهاجرت کارت دوی ته عدلي تعقيب په ضد مصونيت نه ورکوي.
- مهاجر کارت سفري سند نه دی او دا کارت لرونکو ته اجازه ، پاکستان او افغانستان په منځ کې د سفر په ګډون ، نه ورکوي چې په نړيوالو پولو پورې وځي.

## ايا مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکزونو کې ورکول کېدونکي وړاندې خدمتونه په کومه بيه ورکړل کېږي ؟

- ټول خدمتونه وړيا دي. که کوم کس يا ډله د دغه خدمتونو په بدل کې پيسې يا فيسونه وغواړي ، نو بايد سمدستي د دې راپور د يو ابن ايچ سي لخوا د مرستې لاندې شمېرو ته ورکړل شي:

**د یو ایچ سي آر د مرستو شمېرې:**

اسلام اباد/پنجاب: ۰۳۰۰۵۰۱۸۵۶۸ خیبر پښتونخوا (پېښور): ۰۳۰۰۸۵۸۵۶۰۰

سند ایالت (کراچۍ): ۰۳۴۲۲۷۰۴۸۸۸ بلوچستان (کوټه): ۰۳۳۳۷۸۱۹۶۰۱

**مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکزونو ادرسونه**

**(له دوشنبې نه تر جمعې، سهار ۹ نه تر مازدیګر ۵ بجو پورې خلاص وي)**

**کراچۍ کې په مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکز**

شمېره سي ۲/۱۳۶ بلاک-۲۰ (ضیاء الدین روغتون ته څېرمه) (شیرین جناح کالوني) (لېنډلاین شمېره نه لري)

**لاهور کې په مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکز**

۵۷۷ جي بلاک (الاینس ګرامر سکول ته څېرمه)، لیاقت چوک ، سبزه زار سکیم ، ټېلیفون: ۰۴۲۳۷۸۴۰۰۲۲

**راولپنډۍ کې په مهاجر کارتونو کې بدلون مرکز**

ګولډن پلازه، سروس روډ، شکریال (کهنه پل ته څېرمه)، ټېلیفون: ۰۵۱۴۴۷۱۶۲

**پېښور کې مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکز**

خیبر کالوني ، کوڅې شمېره ۲ ، د تهکال پایان د بسونو تمځای ، خان جنرل ستور ته څېرمه ، یونیورسټي سړک (لېنډلاین شمېره نه لري)

**هري پور کې په مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکز**

تربېلې سړک ، یو نمبر چونګۍ ته څېرمه ، کلابټ ټاونشپ (لېنډلاین شمېره نه لري)

**کوټه کې په مهاجر کارتونو کې د بدلون مرکز**

کور شمېره ۱۶۹ جې، بلاک شمېره ۵ (کیو ډي اې مېدان ته څېرمه)، سېټلایټ ټاون ، ټېلیفون: ۰۸۱۲۴۴۳۵۰۲